مَنِ اغْتَسَلَ يَوْمَ الجُمُعَةِ غُسْلَ الجَنَابَةِ ثُمَّ رَاحَ، فَكَأَنَّمَا قَرَّبَ بَدَنَةً

له ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: «مَنِ اغْتَسَلَ يَوْمَ الجُمُعَةِ غُسْلَ الجَنَابَةِ ثُمَّ رَاحَ، فَكَأَنَّمَا قَرَّبَ بَدَنَةً، وَمَنْ رَاحَ فِي السَّاعَةِ الثَّانِيَةِ، فَكَأَنَّمَا قَرَّبَ بَقَرَةً، وَمَنْ رَاحَ فِي السَّاعَةِ الثَّالِثَةِ، فَكَأَنَّمَا قَرَّبَ كَبْشًا أَقْرَنَ، وَمَنْ رَاحَ فِي السَّاعَةِ الرَّابِعَةِ، فَكَأَنَّمَا قَرَّبَ دَجَاجَةً، وَمَنْ رَاحَ فِي السَّاعَةِ الخَامِسَةِ، فَكَأَنَّمَا قَرَّبَ بَيْضَةً، فَإِذَا خَرَجَ الإِمَامُ حَضَرَتِ المَلاَئِكَةُ يَسْتَمِعُونَ الذِّكْرَ». «څوک چې د جمعې په ورځ دجنابت غسل وکړي او (په لومړي ساعت کې جومات ته) لاړ شي، نو داسې ده لکه يو اوښ چې قرباني کړي، او څوک چې په دويم ساعت کې لاړ شي، نو لکه يوه غوا چې قرباني کړي، او څوک چې په دريم ساعت کې لاړ شي لکه يو ښکرور پسه چې قرباني کړي او څوک چې په څلورم ساعت کې لاړ شي نو لکه يوه چرګه چې قرباني کړي، او څوک چې په پنځم ساعت کې لاړ شي نو لکه يوه هګۍ چې خيرات کړي، او کله چې امام (د خطبې لپاره) راووت ملايکې حاضريږي او ذِکر ته غوږ نيسي».

[صحيح دی] [متفق عليه دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم مور ته د جمعې لمانځه ته د وختي تللو فضيلت بيانوي، چې دا وختي تلل د لمر له راختلو څخه د امام تر راتګ پورې دی؛ او دا نږدې پنځه ساعتونه کيږي، چې د وخت سره سم وېشل کيږي؛ د لمر له راختلو څخه د امام تر راتګه او بيا د خطبې لپاره د منبر ختلو پورې: لومړی: څوک چې لکه د جنابت په څېر بشپړ غسل وکړي، بيا د جمعې جومات ته په لومړي ساعت کې لاړ شي، نو اجر يې دومره دی لکه يو اوښ چې خيرات کړي. دويم: څوک چې په دويم ساعت کې لاړ شي نو داسې ده لکه يوه غوا چې خيرات کړي. دريم: څوک چې په دريم ساعت کې لاړ شي، نو داسې ده لکه يو نر ښکرور پسه چې خيرات کړي. څلورم: څوک چې په څلورم ساعت کې لاړ شي نو داسې ده لکه يوه چرګه چې خيرات کړي. پنځم: څوک چې په پنځم ساعت کې لاړ شي نو داسې ده لکه يوه هګۍ چې خيرات کړي. خو کله چې امام د خطبې لپاره راووځي، ملايکې د هغه چا نومونه ليکل بس کړي چې يو د بل پسې جومات ته راځي، او خپله ذکر او خطبې ته غوږ ونيسي.

http://sunnah.global/hadeeth/ps/show/5393